ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ نېټه 09/02/2009

# د عربو سياسي نظامونو سيستم

**سريزه .**

د عربي دولتونو سيستم د نړيوال نظم،سياست او متمدني نړيوالي ټولني يوه برخه جوړه وي . د منځني ختيځ د شخړي ،وسله وال کړکيچ لامل اوحل په عربي دولتي سيستم کې نغښتي دی . دمنځني ختيځ کړکيچ له امله فلسطيني ولس له شپيتو کالو څخه را په دې خوا په وينوکي لمبيږي او د عربو په زړه کې يو ناسور زخم چې تر ننه ورځې پورې ځيني ويني څاڅي رامنځته کړي دی . دغه ناورين په اسلامی نړۍ کې د هر مسلمان او د بشري ټولني هر بشر دوسته انسان د ژړا لامل ګرځيدلي دی . اوسني عربي دولتي سيستم چې بنسټ يې مستقل دولتونه دي ،د منځني ختيز سيميزه تمدن له پاره پردې ګڼل کيږي . دغه سيستمونه له لوديځ څخه ورغلي سيستمونه دي . عربي دولتي سيستم د کولونياليزم پروړاندي د مبارزي په بهيرکې او د اسلامي نظم لمنځه تللو سره سم رامنځته شول . د عربو له خواد عربي ټولني بنسټ ايښودل يو مستقيم غبرګون په منځني ختيز کې پر سياسي حالاتو باندي و، او نړيوال سياست خپلي اغيزي د دوهمي نړيوالي جګړې په مهال پردغه سيمه باندي وشيندلي .

عربي ټولنه په سيميزه ،نړيواله کچه او د ملګرو ملتو په غونډو کې کوم خاص رول نه دی لوبولی ،که حالات همداسي وي هيڅ وخت به هم کوم رول و نشي لوبوي . عربي خاوره او ولس به په لسګونو برخو وويشل شوي پاتي وي . دغې ويش سره يوځاي په منځني ختيځ کې د اسراييلو د ظلم او وحشت سرطاني مرغړې را منځته شوه . دغې حالت اسلامي بنسټپاله غورځنګونه او د عرابو ناسيوناليستي دمقاومت غورځنګونه يې راوپاره ول . اوس مهال نړيوال اسلامي تحريک او اسلامي بنسټپالنه د نيمه نوي اسلام يوه بڼه ګرځيدلي ده .

لومړني عربي ملي دولتونه د لومړې او دوهمي نړيوالي جګړې په منځه کې جوړ شول . عربي نظامونو سيستم په انڅوا کې نه دی، عربي دولتي نظام يو جلا نړيوال سيستم د دولتونو دی . په ملي کچه يو عربي سيميز نظم دی . دغه سيمه په لوديځ کې دافريقا له موريتنيا څخه تر آسيايي عربي خليجي سيمي پورې غزيدلي ده . په عربي نړۍ کې د اسلام سپڅلې د نړۍ ستر دين او ورسره د اسلامي نړۍ کلتور ستر تمدن مرکز پروت دي .

## ١ . د عربي دولتونو ډولونه

يو مدرن ملي دولت هغه دولت دی چې يو سياسي جوړښت ولري، د استقلاليت په پرنسيب ولاړ وي او وګړي يې سياسي خپلواکي ولري . ورسره ملي دولت ديو شمير ملي بنسټونو له خوا وړل کيږي . داسياسي، حقوقي بنسټونه بايد د ولس اراده تمسيل کړي . د يو ملت جوړښت ديو سياسي هراړخيز هويت له لاري رامنځته کيږي . مستقل ملي دولت د اروپايي دولتي سيستم يو ډول دی .

په اروپا کې ملي دولتونه دعربو دولتونو په پرتله په بل ډول رامنځته شول،لومړې ملت رامنځته شو بيا يو ملي دولت رامنځته شو. د عربو ګروپي يا قبايلي دولتونوسيستم دی ، به له دې چې هر عربي دولت يوملت وي . په بل عبارت نشته د عراقي، سوريايي، اردوني،کويټي ملت په نامه کوم ملت، دا مفکوره يو جوړښت دی نه يو واقعي خواست . د دغي مفکوري ريښي نولسمي پېړي ته ورننوځي . مخکې له دې چې عثماني امپراتوري لمنځه ولاړه شي . د لومړې نړيوالي جګړې په پای کې دغه مفکوره سياسي شوه .

د عربو اوسنې لومړني ټيپکل حکومتي فورم اسلامي دوديزه بادشاهي ده. لومړی ډول حکومت لکه د مراکش او سعودي عربستان بادشاهي . وهابي سعودي عرب يوه دوديزه بادشاهي ده نه يو بنسټپاله دولت . دسعودي بادشاه په خپلو ويناو اوا مرو کې د ولسواکې نوم اخيستلوڅخه ډده کوي . اوامرو په داسي جمله باندي پيل کيږي . د خدای په مرسته په لاندي ډول امر کوو . دسعودي شورا شپيته غړي لري په شورا کې شهزاده ګان نشته .سعودي عرب يو شتمن د پطرولو ډالر هيواد دی . نوموړي هيواد د نړۍ ستر او سپڅلې دين اسلام دوه خورا مهم ښارونه مکه او مدينه په ځان کې لري ، او د اسلام مبين دين کلتوري ،سياسي دښته ده .

د خليج په پنځه نورو شيخانو دولتو کې بادشاهي په ميراثي ډول ده، نه اسلامي خلاقت . د يو قومي جوړښت پر بنسټ شيخانودولتونو ته يو ډول مشروعيت ورکړشوي دی . په مراکش کې د سعودي عرب په پرتله هلته سياسي ګوندونو ته اجازه ورکړل شوي ده . په اردون کې بادشاهي بل ډول لري، هلته بادشاه د محمد « ص » د قريش له سلسلې څخه دی او له همدې لاري خپل واک ته مشرويت ورکوي ،واکمن يې سيکولر دی .

دوهم ډول حکومتي فورم په عربي نظام کې يو ګونديزه سيستم دی،په مذهب نه ولاړ يو ګونديزه سيستم چې د ملکې ګوندونو له خوا لکه په ټونس کې او يا له يو شمير ملکې ګوندونو کودتايي پوځي افسرانو له خوا جوړ شوي اتحاد دی


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

،لکه په سوریه کې د حافظ الا سد او په عراق کې د صدام حسین مهال . دغه دولتونه یا رژیمونه له یوځي دیکتاتورانو یا زورواکانو له خوا اداره کیدل .

دریم ډول حکومتي فورم یوځي رژیمونه د یو کرسماتیک یا مخور مشر له خوا اداره کیږي . دوی د واک تر لاسته لاوړلو ورسته خپل اورګانیزیشن او دیووالي ګونډ جوړکړو، لکه په مصر کې د جمال عبدالناصر اداره او د فرانسي کولونیال ځواک پروړاندي د الجزیر اسلامي ژغورنې جبهه **یا دولتي** ګونډ په الجزایر کې . بل ډول دولتي یوځي رژیمونو دي چې به له کوم ګونډ څخه هم په واک کې پاتي شوي دي ، لکه په لیبیا کې د معمرالقزافي تر مشري لاندي هیواد .

څلورم او ورستي ډول دولت په عربي نظامونو کې ولسواکه ګڼ ګونډیزه سیستم دی چې دوی پارلماني حکومتي سیستم ومني په ټولو عربي هیوادو کې نشته . که څه هم په مصر او اردون کې یوه اندازه محدوده ولسواکي شته . مصر له ۱۹۲۳ تر ۱۹۵۳ کالو پوري د یوې زړې عربي حکومتي فورم تجربه لرله . په عربي دولتونو کې ګڼ ګونډیزه دولتي سیستم په لبنان کې له ۱۹۷۵ تر ۱۹۹۰ کالو پوري د کورني جګړو څخه مخکې لیدل کیدو. له همدی مهاله لبنان نوره پارلماني ولسواکې نه لري . ولسي جرګه یا پارلمان لرل په دې مانا نه ده چې ولسواکې لرو. ظاهرآ په ډیر شمیر عربي هیوادونه کې ولسي جرګي شته . اکثرآ پارلمان یا ولسي جرګه د حکومتي دستګاه او څارګري ادارو اوږد شوي لا س دی . د ولسواکې سیستم سره داسي ولسي جرګي هیڅ ترو نه لري . دبیلګي په ډول د حافظ الاسد مړینه سره سم د سوریې ولسي جرګي په اساسی قانون کې سمدستي بدلون راوست . د سوریې ولس مشر عمر د څلویښتو کالو څخه څلوردیرشو کالو ته راټیټ کړو، د عمر بدلون د بشار الاسد عمرسره برابر و او دې ته یې د ولس مشري لاریه هواره کړه . که نن په عربي هیوادو کې ولسواکه ټولټاکني تر سره شي یو حکومت به بیا په واک کې پاتي نه شي .

## ۲ . عربي ټولنه

عربي ټولنه د عربو او د یوعربي ملت د یوالي سمبول دی ، دوی له دغي لاري خپل پخواني یوالي بیا راژوندي کول غواړي . په ۱۹۴۵ کال د مارچ په ۲۲ نیټه کې جمعیت دووالوالعربیه ، د عرب لیګ یا د عربي ټولنه سازمان په قاهره کې بنسټ کینودل شو او د ملګروملتو په غونډه کې رسمآ پرانیستل شو. دعربي ټولني ووه اصلي او لومړني غړي هیوادنه په لاندي ډول و . مصر،عراق،یمن،لبنان ،سعودي عرب ،سوریه او اردون . دغي هیوادو د یوعربي دولت سیستم بنسټ کینود. اوس مهال عربي ټولنه دوویشت غړي لري . په نړې کې تر ټولو زوړ د دولتونو څخه پاس دوهم سیمیز ارګانیزشن بلل کیږي . لومړنی ارګانیزشن د امریکي متحده ایالاتو سازمان چې په ۱۹۳۹ کال د اپریل په دیرشمه نیټه په بوګوټه کې رامنځته شو. عربي ټولنه په نړیواله کچه یو سیمیز ترون دی . د نړیوالي سولي ساتني او امنیت لپاره ډیراهمیت لري . د ملګرو ملتو د سولي اجندا بنسټ جوړوي . عرب روڼ اندو د عربي ټولني بنسټ ایښودونکي لاره عربي ناسونالیزم او عربي رنسانس ته خلاصه کړه . د ټولو عربو ترمنځه یې د یوالي احساس راژوندي او یو خپلواک عربي غورځنګ د یوالي لپاره رامنځه ته کړو . د عربو دغه هیله هغه مهال تر سره نه شوه کله چې عربي خاوره د سیکو + پیکو ترون له مخي د فرانسوي او انګریزي کولونیال ځواک تر منځه وویشل شوه .

په ۱۹۷۹ کال کې د کمدیویټ خبرواترو څخه ورسته مصر د اسراییلو سره د سولي ترون لاسلیک کړ . عربي دولتونو مصر سره خپلې اړیکي بندي کړې اود عربي ټولني مرکز له قاهرې څخه تونس ته ولیږدول شو. په ۱۹۹۴ کال د عربي ټولني دفتر بیا قاهرې ته د مصر ولسمشر حسني مبارک په غوښتنه یووړل شو . عربي ټولني ته بله ضربه په ۱۹۹۰ کال کې دعراق یرغل پر کویټ وو. په لومړي ځل یو عرب هیواد په بل عربي هیواد باندي یرغل وکړو.

په ۲۰۰۱ کال کې مصرې دیپلومات ښاغلي امر موسی د عربي ټولني مشر وټاکل شو.

په ۲۰۰۶ کال د مارچ په میاشت کې دسوډان ښار خرطوم کې د عربي ټولني سرمشریزه غونډه راوغښتل شوه . نیمایې عرب مشرانو په کې ګډون ونه کړو او په غونډه کې پر ډیرو کرکېچونو باندي خبري هم ونشوي .

په ۲۰۰۳ کال کې عربي ټولني ته د ریفورم او وړاندیزونو کال وو. دځینو هیوادو ځیني وړاندیزونه په لاندي ډول وو .

د مصر وړاندیز ، د عربو یوه ستره محکمه د غړو هیوادو د کړکیچونو د حل لپاره جوړه شي او یو عربي پارلمان د ټولو مدني او سیاسي نهادونو څخه جوړ شي ،د یوعربي سیمیز امنیتي سیستم رامنځته کول .

دیمن او لیبیا وړاندیزونه ،عربي ټولنه باید منحل شي او دیو عربي اتحاد د اروپایې اتحاد یا ټولني په څیر رامنځته کیدو غوښتنه وکړه . د عربو قومي مشران دې د یوکال لپاره په دوریي ډول وټاکل شي چې داتحا د سر مشر یزې ډنده په غاړه ولري .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د سعودي عرب وړاندیز ، د غړو هیواد او ولسونو ترمنځه باید ازاده سوداګري سیمه جوړه شي .

مصر او سعودي عرب دوه متضاد دوله حکومتونه په عربي نظام کې پیژندل شوي دي . مصر په اقتصادي، ټولنیز او د معدني زیرمو له کبله ورسته پاتي هیواد دی، سربیره پر دې مصر دعربي دولتونوسیستم مرکز دی .

مصر په سیمه کې په خپلو څو ځنګړتیاو یو سیمیزه ځواک دی . د ځواک فکتورنه یې، یو ځواکمند وسله وال پوځ ، د مصري وګړوشمیر او یو ځنګړي دیپلوماتیک قابلیت او د نور عربي هیوادو په پرتله یو ښه مسلکي بهرني سیاست لري .

اسلام په خپل مذهبي دوکترین کې بادشاهي د واکمني فورم په ډول نه پیژني . دودیزه سني اسلام د واکمني فورم خلافت دی . خلیفه یو مذهبي مشر دی نه یو بادشاه. په تاریخ کې بیا خلافت د پادشاهي په څیر منلي شوي ده . اوسني اسلامي بنسټپال په هیڅ ډول اسلامي خلافت نه غواړي ، دوی اسلامي پوهه په تبلغي ډول راګرځوي او اسلام د خپل اپوزیشني غورځنګ لپاره په یوه آله بدله وي . دوی اسلامي نظام د ملي دولت پرځاي وړاندي کوي . له همدي سره په اسلام کې دري ډوله د واکمني فورم سیستمونه شته دي لکه خلافت ، بادشاهي او اسلامي نظام . اسلامي جمهوریت یو نوي ډول اسلامي سیستم دي . اسلام په خپل تاریخ کې دري خورا مهمی نړیوالي امپراتوري پیژني اموي ، اعباسي او عثماني امپراتوري . په ۱۹۲۴ کال کې کله چې عثماني سلطنت، خلافت ړنګ شو بیا تر اوسه کوم اسلامي واکمن ځان خلیفه نه دی اعلان کړي .

د اسلام مبارک دین څخه پرته هیڅ یو حکومتي سیستم په عربي نړۍ کې نه دی راڅرګند شوي . که څه هم په ډیرو عربي هیوادو کې په ظاهر کې د مذهب او سیاست ترمنځه واټن شته، خو لا تراوسه په مذهب نه ولاړ کوم ریښتني سیستم بهیر نه دی راڅرګند شوي . په لیبیا کې انقلابي مشرعیت لرونکې پوځي دیکتاتوري یا زورواکه رژیم په اسلام ولاړه دی .

په ځیني اسلامي هیوادو کې واکمن د امیرالمومنین په نامه حکومت کړي، دوی دغه حق یا صلایت له قران کریم او سنت څخه اخلي . اسلامي علما امیر ته په تاریخي او دودیزه ډول مشروعت ورکوي .

یو مصرې دیني عالم مصطفی ابو ضیادفهیم شورا داسي بیانوي ، شورا په څرګنده توګه ، په مخصوص ډول یو ژوندي ډول د اسلامي حکومتی فورم یوه دموکراسي ده . هغه په دې باور دی چې اسلام په لومړي ځل په دولتي نظام کې ولسواکي د ځمکي پر مخ راوسته .

د سیاسي اسلام ټول غړي په دې قانع دي چې اسلام ولسواکې راوسته، ورسره شورا د ولسواکې یو اصلي عنصر په څیر په کې ځاي کړل شوه . د اسلام دغه نوښت د بشریت په تاریخ کې بي سارې دی .

دعربي ټولني غړي هیوادو ترمنځه لوی لوی توپیرونه شته دبیلګي په توګه په خلیج کې د شتمنو تیلو دولتونو لکه کویټ،قطر،عربي امارات ،بهرین او مخ پر وده خوارځواکه هیوادونه لکه جیبوتي،سومالیا اوسوډان دي.

### ۳ . پان عربیزم او عربي نشنلیزم

د پان عربي ناسیونالیزم ایدیالوجي مفکوره مخکي له دې اوسني عربي نظامونو سیستم څخه وده کړي ده .

دعربي ټولني ټګلاره په خپله ایدیالوجې کې پر پان عربیزم باندي ولاړه ده . پان عربیزم د عربي دولتونو لپاره یو موعقتي جوړښت دی . په بل عبارت دوی اوس په یو مخکنې پړو د یو مستقل پان عربیزم دولت یا د یو پان عربیزم د عربو یوالي په مرحله کې قرار لري . د یهودو سهیونستي رژیم رامنځته کیدو سره سم له یوې خوا پان عربي ناسیونالیزم له بلي خوا اسلامي بنسټپالو د پان اسلامیزم غورځنګونه رامنځته کړل . د عربو او اسراییلو په لومړي جګړه کې دغه غورځنګونه په لوی ولسي ځواک بدل شول .

په ۱۹۴۳ کال کې د عراق لومړي وزیر نوري السعید د عربو د یوالي لپاره یو ستر پلان طرحه کړو. د پلان څو ټکي په لاندي ډول و . سوریه ،اردون،فلسطین،لبنان باید په یو لوی سوریایې دولت کې اتحاد وکړي . عربي ټولنه د لویې سوریه او عراق څخه جوړه او نورو عرب هیوادوته د ګډون لاره خلاصه ده . چې ورسره یهودو او نورو لږکیو ته په پلان کې لږ خپلواکی ومنلي شوي وه .

دعربي ټولني کړنلاره لیکي دغوموخو ته باید کار و شي . د غړو هیوادو ترمنځه د مالوماتو تبادله چې په راتلونکې کې دعربو پر دولت باندي مثبته اغزه ولري، چانسونه وخیړل شي کوم چې دغه ټولنه یې لاسته راوړي شي . له همدي سره باید یو مرکز جوړ شي چې په کې عربي دولتونه کوم چې مورني ژبه یې عربی وي ، لیک ، لوست او کلتوري نړدیوالي لري سره وتړل شي . ورسره یو سیاسي اورګانیزشن جوړ شي او په کې نړدي د ټولو عربو هیله ،موخه دیو واحد اتحاد او یوعربي ملت رامنځته کیدل وڅیړل شي . که څه هم د عربي ټولني د جوړیدو په همغه لومړي سر کې لږ اخلاف رامنځته شو. ځني عربي هیوادونه چې نوي خپلواکې ترلاسه کړي وه د خپلي خپلواکې حق یا ریښته څخه بیا نه لاس په سر کیدل .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

اوسني عربي دولتونه د همدی عربي ټولني ترون پر بنسټ د تل لپاره هيڅ حق د موجويت نه لري . په همدي وجه دوی په سيميزه دولتونو،نه په دووله قوميه يا ملي دولتونو په نامه ياديږي . د د غو دولتونو کمزور تيا له يوي خوا په نړيوالوقوانينو منل شوي ملي دولتونه د عربي دولتونو سيستم دی چي سياسي نهادونه او بنستيز يووالي يې د ننه څخه د کمزوري کړي دی . له بله خوا له بهرڅخه اروپايي ، امريکايي امپرياليستي استعماري ځواکونو د فشار او د کمزوري دولتي مشروعيت سره ترو لري . بنکيلاګر هيوادونه نه پريږدي چي د تور زر يا دتيلو وسله ديو هيواد په لاس کي وي او د ملګرملتو د امنيت په شورا کي يواسلامي هيواد ته د ځاي ورکولو مخه ونيسي . دا حالت مخکي له اوسني کړکيچ څخه هم موجود و. په همدي بهير کي عربي ملي دولتونه د بنسټپالو له خوا د حل مستورات يا صادر شوي حل په وجه له منځه وړل کيږي . که نن عربي ټولنه يوه سمبوليک بڼه لري د دوی دسبا ورځي اتحاد ډير لري نه دی .
په ۱۹۵۸ کال کي مصر او سوريه د ناصر تر مشري لاندي د پان عربيزم په نامه سره متحدشول او متحد عربي جمهوريت يې اعلان کړو. په سوريه کي د پوځي کودتا څخه ورسته ناصر دغه اتحاد ړنګ کړو.
په ۱۹۵۲ کال کي د مصر بادشاهي لمنځه ولاړه او دناصر راتګ سره پر خلکو ګران پان عربيزم د عربي نظام يوه نوي مرحله رامنځته شوه چي لوړي څوکي يې د عربو اسراييلو په څلور جګړو کي محسوسه شوي . په ۱۹۶۷ کال کي عربي هيوادو په شپږ ورځينۍ جګړه کي د اسراييلو پوځ څخه سخته ماتې وخوړه .
نن ټول دعربي نظام رژيمونه په خوله کي پر پان عربيزم باندي ولاړ دي .
په ۱۹۶۳ کال کي يو د پان عربيزم د مفکوري پلار ساتي الحوصري ليکي ، مذهب د خداي او بنده ترمنځه اړکي دي ، په داسی حال کي چي پلارني هيواد ټولو پوري اړه لري .
په ۱۹۶۴ کال کي عبدالرحمن البازض د عربو د پان عربيزم پلار چي د صدام حسين له خوا عدام شو ليکي ، ريښتيني ناسيوناليزم او د اسلام بنسټ بايد سړی بيل بيل ونه ګوري او دغه دوه د يوبل سره مخالف کيداي نه شي، برخلاف دوی څنګ په څنګ يو له بل سره نيغ په نيغ سريع قدم اخلي .
په ۱۹۲۵ کال کي مصري عالم علی عبدالرزق د محکمی قاضي د الازهر په پوهنتون کي د اسلامي شريت استاد په خپل علمی اثر په نامه ( اسلام او د حکامو اصول ) کتاب کي پر ټولو بر ځواب ليکلي دی، هغه هڅه کړي او ليکي چي اسلام يو خلص مذهبي فکري سيستم دی او اسلام په متواتر ډول په ډير ناوړه ټوګه د سياسي موخو لپاره استعماليږي . د کتاب له چاپ سره د اسلاميستانو او په مذهب نه ولاړ تر منځه کړکيچ را پيداشو. چي ورسره سياسی اسلام لږ په شا کيږي او لاره په مذهب نه ولاړو ته خلاصه شوه . له همدي سره ساتي الحوصري د عربی ناسوناليزم روحی بل پلار په مذهب نه ولاړ پان عربيزم بنسټ کيښود. هغه ويل چي هر ملت ديوې کلتوري ټولني له خوا تړلي شوي دی . د ا ټولنه نه يواځي ديو مذهب بلکي د يو ګډي ژبي لخوا يو ځاي ساتل کيږي . **په ۱۹۱۳ کال کي عرب مسلمانانو او عرب عيسويانو په يوه عربي ملي کانګرس کي د يو عربي ملت برخليک په اړه په پاريس کي غونډه وکړه .**
عربي ناسيوناليزم هڅه کوی وښيي اسلامي خپلوي غيرسياسي کړي او ورسره وښيي چي دا يواځني مذهبي کلتوري هويت دي . له همدي سره غواړي وښيي چي عرب عيسويان او عرب مسلمانان د يوي ګډي ژبي او ګډ تاريخ سره تړلي دي او دوی يوځاي په مذهب نه ولاړ ملت جوړه وي . نور ملتونه ولسونه لکه ترکان، ايرانيان ، افغانان دوی يواځي له عربو سره ګډ اسلامي مذهبي يوالي لري د پان عربيزم له خوا ورته د بهرنيانو په سترګه کتل کيږي . دوی وايي د ا ولسونه د عربي نړۍ سره کوم تړو نه لري . دعربي نظام سيستم يواځي پر عربي دولتونو باندي نه په اسلامي نړۍ باندي تعريف کيږي .
دعربي نظام سيستم پر وړاندي ستر ګواښ د سياسي اسلام دريدل دي . ځکه په دغه سيستم کي اسلام د يو سياسي ايديالوجي په ډول لږ ارزښت لري . په اسلامي بنسټپالوکي د اسلام بيا سياسي کولو معنا لري . اوس مهال بنسټپالنه د نيمه نوي اسلام يوه بڼه ګرځيدلي ده .
دوی هڅه کوي اسلامي سمبولو نه او تبلغ په سياست کي ورننه باسي . دوي اسلام مسلمانانو ته نه ديو مذهب په څير بلکي د يوي مينه ناکي په لاس کي لرلي ايديالوجکي آلی په څير ور پيژني کوي .
په ۱۹۸۰ کال د جون مياشت په ديارلسمه ګڼه کي د بيروت په يوي معتبري مجله کي د الفقير العربيه المصور په نامه ،، عربان ، اسلام او د ايراني انقلاب تر سر ليک لاندي داسي ليکي. عرب دا نه شي محسوسولي، چي ايراني انقلاب د خپل سياسي ، تمدوني کړو وړو او مخوو لپاره يو موډل ومني . سره له دي چي تر يوې کچې او اندازي پوري ور ته خوښي او سمپاتي ښيي . اسلام په اصل کي عربي دی . ځني له وايې چي اسلام عربي څيره او عربي روح لري . په دغه واقيت باندي عرب په ډاډه هم پوهيږي چي نه عرب ولسونه ،هغه ولسونه چي دوی اسلام منلي دي ، قادر به نه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

شي په هغه اندازه اسلام تفسير كړي ا و پوهيږي او يا دوی د عرابو څخه په بهتره بڼه وپوهيږي . يواځې عرب كولي شي هغه ( اسلام ) په سمه توګه تفسير او ولمنځي .
په ۱۹۷۷ كال كې يو عرب پوه ميكل هودسون ټول عربي سياسي سيستمونه يې مطالعه او څيړل كړل ، دې ليكي . عربي نړی ډيره ګرانه ده چې اداره شي،لاملونه يې په عربي ټولنه كې دګړنديو ټولنيز بدلوننو كې نغښتي دي چې سياسي نظام سيستم ورسره قدم نه شي اخيستي .

۴ . لنډيز .

**اسلام دلوديز صنعتي انقلاب كلتور نه مخكې په اوومه پيړی كې يو ستر ځلانده كلتور او تمدن و . پوښتنه دا ده چې موږ څنګه دا اوسني نوي پوهنه اسلامي كولاي شو ؟ . اسلام په خپله يو مذهب او حكومت دي په صنعتي كولو كې چې د مدرنيزم يا نوي توب يو مهم اړخ دی هيڅ ستونزه نشته . په اسلامي نړی كې دننه دغه اختلافونه او ټوپيرونه چې وينو د ځينو ښكلاكګروځواكونو لاسوهني او زموږ د ناپوه سياسي مشرانو له امله دي .**

افغان سيد جمالدين ليكې اسلام يو قوت دی ،د لوديز نه په دفاع كې **او مسلمانانو ته قوت ښونكې دی ، د ريفورمونو بدلونو او سمون په صورت كې چې د اسلام تر اصولو لاندي وي او اسلام ته په چوپړ كې وي ، مسلمانان بايدحركت وكړي . دی په بل ځاي كې بيا ليكي د مسلمانانو كمزوري او ناپوهي په دې نوي وخت كې د دوی د پوهنې په كمښت پورې اړه لري .**

**دا بايد ومنو چې زموږ ډير پوه خلک د خپل ورځني سياسي مطلب په افاده او بيانولو كې ستونزې لري او هم د بل په خبره او مطلب باندي پوهيدل ورته ډير ګران دي او له دې امله څومره نه ښوونكې تيروتني او جګړې تري رامنځته كيږي . داسلام لمن له عقل نه وتلې ستره ده . د خدای « ج » او پيغمبر « ص » د قران كريم آسماني قانون چې زموږ له عقل او منطق څخه وتلي دي، څنګه موږ په پوهه او خبري اترو باندي په مناسب ډول وژباړو، تعبيراو تفسير كړو ؟ . ورسره يو بل ته د متقابل درنښت ، خپل ټولنيز امنيت ،سوليز ژوند او دهيواد ملي ګټي په پام كې نيولو سره جرګه شو اوپه سوليزه توګه عمل وكړو .**

**په لوديز او صنعتي ولسونو كې په ډير تكبر او پيغور ويل كيږي چې اسلامي تمدن په توليدو دی . ځكه چې اسلامي نړۍ حركات او غورځنګونه د پوهو خلكو په لاس كې نه دي او دنوې نړی سره هم غاړې كيدای نشي . اسلامي هيوادنه يو په بل پسې لوديز مادرن تمدن ته ورماتيږي او د لوديز خپل بشپړ بري ويني .**

**افغانستان يو اسلامي نه عربي هيواد دي . د افغانستان دين داسلام سپڅلي دين دی ، افغانان په غوڅ اكثريت سره مسلمانان دي او يو ژور دوديزه اسلامي احساس لري . په افغانستان كې هيڅ قانون نشي نافذيدلی چې د اسلام د سپيڅلي دين او زموږ افغاني دوديزه ټولني د حقوقو، نورمونو، ارزښتونو مخالف وي .** په همدي وجه موږ له عربي هيوادونو سره عقيدوي تينګي اړيكي لرو . د ټولنپوهې له اړخه عقيده د كلتوري ارزښتونو په رامنځ ته كولو كې يو اساسي عنصر دی . په همدي بنسټ د كلتوري پلوه افغانستان له عربي نړی سره نږدې اړيكي لرل غواړي .

**نن هر ديرش كلن افغان د دې شاهد دي چې افغانستان درې ناكامه ايديالوجكې تجربې لري د لوديز د ولسواكې لسيزه، د كمونيستي او بنسټپاله اسلامي ايديالوژجي . دغو نه سنجول شويو له بهر څخه وارد شويو ايديالوجيو افغانان د پرله پسي ناورينونو سره مخامخ كړي دي . موږ بايد له خپل تاريخه او دنړی تاريخه زده كړه وكړو او تاريخي ترخي تجربي بيا تكرار نه كړو . زموږ اوسني د دولتي حقوقو پوهان، حكومتي سياست پوهان ،قانون پوهان، جوړونكو اوسياسي ګوندونو د ناكامو تجربو تكرار ول څخه په كلكه ډده وكړي . د افغانستان راتلونكی اسلامي نظام جوړونكي بايد خورا ډير ژور پام وكړي اوله ډير احتياط څخه بايد كارواخيستل شي . موږ نوره اجازه نه لرو افغانستان يواځي پراحساساتو د پرديو ايديالوجي لپاره يو نړيوال سياسي لابراتوار وګرځو. لوی افغانستان په خپل لرغوني تاريخ كې او د اساسي قانون په تاريخ كې د يو ځواكمند مركزي دولتي نظام تجربه لري .بل هر ډول نظام له مركزي ،ولسواكه، حقوقي دولت څخه پرته د ناكامې سره مخامخ دی .**

اسلام كوم خاص قوم يا توكم ته نه دی نازل شوي اسلام ټول بشريت ته نازل شوي دی . اسلام په خپل ذات كې كوم عيب نه لري . كوم عيب كه شته هغه زموږ په مسلماني كې او له اسلام څخه زموږ كمه پوهه ده . اسلام يو الهي قانون دی .اسلام د منځلاريتوب او د عدالت دين او نظام دی او هيڅ ډول افراط او تفريط نه مني .
اسلامي علما او مسلمانان په دې امر باندي اعتقاد او باور لري چې اسلام او سياست سره نه بيلدنونكې دي او ټينګې اړيكي سره لري . دين او حكومت سر نه بيلودونكې دي . دين د ژوندانه په ټولو چارو كې سهيم دی . اسلامی سياست پر اسماني قوانينو او د رسول الله « ص » په سنت باندي ولاړ دی . اسلام د مسلمان لپاره د سالم ژوندانه لارښونه كوي .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

پو ښتنه دا ده چې ولي تر اوسه د اسلامي پوهانو، علماو او سياست پوهانو له خوا يو نړيوال اسلامي نظام يا يواسلامي ولس واکه دقانون اسلامي دولت د اسلامي شريعت،د انسان او مسلمان حقوقو، ارزښتونو او قوانينو په رڼا کې په نړيواله کچه نه دی طرحه شوي؟ لکه په لوديځ کې د عيسويت تر اغيزي لاندي يو منلي شوي ولسواکه دولتي سيستم چې په ټولو هيوادو کې چالښت لري .

نن په اسلامي نړۍ کې هر يو اسلامي ګونداو تنظيم خپل اسلامي تعبير، لرليد او تصور د يو اسلامي نظام يا دولت څخه لري او بله اسلامي ډلي د هغه اسلامي نظام مخالفت کوي . په همدي اسلامي نظام باندي د مسلمانانو ترمنځه ډيري جګړي په اسلامي نړۍ کې پيښي شوي دي .

په عربي نظامونو سيستم کې د لوديز ولسواکي ناکاميدل ، زموږ د سوچونو او فکرونو مرکزي هسته جوړوي . د عربو او اسلامي نړۍ ټول اسلامي علما، سياست پوهان ، د دولتي حقوقو تيوريو پوهان د يو لوی نړبوال اسلامي کنفرانس سازمان په چوکاټ کې بايد سره راټول شي او داسلامي نړۍ لپاره يو نړيوال اسلامي موډل حکومت يا اسلامي نظام سيستم چې د نني نړيوال سيستم ، نړيوالتوب سره او د سلام سپيڅلي دين سره په ټکرکې نه وي او غوڅ اسلامي نړۍ ولسونو او علماو ته او د نړيوال قونينو ، معيارنو ، ارزښتونو سره متابقت ولري دمنلو وړ وی طرحه او اسلامي نړۍ ته دې وړاندي کړي . شک نه شته چې عربي علماو او پوهانو له پنځوسو کالو څخه د يو عربي دولت په جوړ ولو او څيړلو باندي کار پيل کړي دی .

عرب ولس که په خپل ستر تير تاريخ باندي وياړ کول غواړي اوس دي خپل حال وګوري او بايدچې خپل راتلونکي او خپلواک ژوند ته نوي پلانونه طرحه کړي . لوديځ او امريکا به هڅه وکړي چې د لويديزي ولسواکې ارزښتونه او معيارونه په يو ډول نه يو ډول پر عربي هيوادو وتپي او يا ومني . اسلامي هيوادونه دغو ارزښتونو منلو ته چمتو نه دي . مسلمانان نشي کولاي چې د لوديز لاره خپله کړي، د لويديز دموکراسي ارزښتونونه د عربي اسلامي هيوادو ارزښتونو ته ځواب نه شي ورکولي .

نن د لوی منځني ختيځ اصلاحاتو او د سولي طرحه اجرا او د يو لوی عربي هيواد جوړيدو چانسونه ډير شوي دي . د تولو څخه مخکې بايد په عربي رژيمونو کې بنسټيزه بدلون راشي . د عربو سياسي فکري مشرتوب بايد نوي ځوان نسل ته وسپارل شي . په سوريه کې حافظ الاسد په اردون کې ملک حسين ، په مراکش کې ملک حسن ، په عراق کی صدام حسين ، په فلسطين کې عرفات او په ځينو خليج هيوادو کې د مشرتابه بدلون راغلي دی . عرب مشرانو ته په خپلو هيوادو کې د زبرځواکو او امپرياليستي هيوادو له خوا تل سياست او اقتصاد له بهره څخه ديکتي يا ټاکل شوي دی . **امريکا په اسلامي هيوادو نو کې د مستبدو حکمرانانو له ملاتړ څخه لاسونه سر کيږي .**

دعرب ولسونو غږ چا نه دی اوريدلې . امريکا اولوديز په دې پوهيدلې چې دخپلو تيروتنو په ترڅ کې يې ټوله اسلامي نړۍ له ځانه خوا بدې کړي ده . د اردون ، مصر، سعودي عرب پر حکومتونو او مشرانو باندي وسله وال بريدونه شوي دي .

له ۲۰۰۳ کال څخه را په ديخوا په سيمه کې دولتي ضد،مذهبي ،سياسي، ترهګريزه تاوتريخوالي زور مندلي دی . په عربي نړۍ کې د ډليزو رسنيو له خوا پر عربي سر مشريزه باندی کوتنيونه شميره ځښته ډيره شوي، په اسلامي نړۍ کې دعرابو له مشرانو څخه سخته کرکه کيږي . ګوتنيوونکي دعربي نړي په ډليزو رسنيو کې لکه تلويزيون ، راديو ، انترنيت ، اخبارونو او فلمونو دا په اثبات رسوي چې عربي مشران د عرابو يوالي، سياسي،اقتصادي ، ټوليزو کړکيچونو ته هيچ کوم حل نشي رايستلي، د فلسطينيانو د حقوقو څخه په سمه توګه دفاع نه کيږي . د عربي ملت د يوالي مفکوره به هيڅ وخت په حقيقت بدله نه شي او يواځې د کاغذ پر مخ به ليکلي پاتي وي . د عربي نړۍ پای به رانيږ دي شي که په دوی کې سياسي، ټولنيزه بدلونونه اوسمون رانشي .

الله په خپله ښه پوهيږي


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de